# د عمومي طب پوهنځي لنډه تاریخچه او پېژندنه

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسســـــــې عمومي طب پوهنـــځی د ۱۳۸۸ هـ ش کال د لیندۍ/قوس میاشتې په ۲۲ نېټه، د لوړو زده کړو وزارت د حکم پر بنسټ د فعالیت جواز ترلاسه او سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې په تشکیل کې یې خپل فعالیت پیل کړ، چې تردې دمه یې د معالجوي طب په برخه کې ګڼ محصـــــلین روزلي او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړانــدې کړي دي، چې د هېـــواد په داخل او بهـــر بېلابېلو روغتونـــــونو کـــې په تخصصي زده کړو بوخت دي.




سپین غر د لوړو زده کړو خصوصي مؤسسه د عمومي طب پوهنځي په درلودلو سره د عملـــي کار لپاره د ســـــپین غر مومند تدریسـي،عصـري او مجهـــز روغتون لري،چې په مختلفو وسایلو سنبال دی او محصـــلینو ته د عملي زده کړو ترڅنګ د هېوادوالو لپاره په معالجوي برخه کې هم فعالیت کوي.

عمومي طب پوهنځی د خپلـــو محصـــلینو د عملي کچې د لاپیاوړتیا او لوړولو لپاره په تجربوي موادو او وسایلو مجهز لابراتوارونه، کتابتون، کمپیوټـرلېب او له نـړیوالو معیارونو سره سم په پروجکټور او LCD سنبالې تدریسي خونې لري.

عمومي طب پوهنځي خپل درسي بهیر په کرېډېټ سیســـــتم برابر کړی دی، چې تدریســـــي چارې یې د مجربو استادانو له لورې پر مخ وړل کېږي.

عمومي طب پوهنځی خپلو اهدافو ته د رســـــېدلو لپاره پینځه کلن ســــتراتېژیک پلان لري، چې په منظم ډول تطبیقېږي.

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د عمومي طب پوهنځي ټولې چارې د یو مسلکي، ژمن، په کارپوه او باتجربه کاري ټیم له لورې، د لوړو زده کړو وزارت تقنیني سندونو او سپین غر د لوړو زده کړو مؤسســــــې پالیســــــو او طرزالعملونو په رڼا کې ترسره کېږي.

# د عمومي طب پوهنځي د رئیس پیغام!



دوکتور محمد جاوید حاذق
د عمومي طب پوهنځي رئیس

لـوړې او مسـلکي زده کړې په هر هېواد کې د نېکمرغه سوکاله ژوند او د یوې پرمختللې ټولنې د جوړولو په موخه ترسره کېږي. دا ډول زده کړې ټولنې ته د داسې علمي او مسـلکي کادرونو د روزنې بنسـټیزه دنده پر غاړه لري، چې د یوه ملت رښتینې او اساسي معنوي پانګه ګڼل کېږي. د همدې لوړو او مسـلکي زده کـړو د عاملو او پراخولو په پایله کې کېدای شي یوه ټولنه او وګړي یې د سوکالۍ پر لور حرکت وکړي. هر څومره چې د علمي او مسـلکي کادرونو د روزنې په لارو چارو کې اغېزناکې هلې ځلې کېږي، په هماغه کچه ټولنه د نېکمرغۍ او هوسـاینې په لور چټک ګامونه اخلي. سپیـن غـر د لوړو زده کړو مؤسسـې د عمومي طـب پوهنځی چې د ۱۳۸۸ هـ ش کال د لیندۍ/قوس د میاشـتې په ۲۲ مه نېټه یې د لوړو زده کړو وزارت د حکم پر بنسټ خپل فعـالیت پیل کړی، د محصلینو د نظري او عملي زده کړو لپاره د داخلي لابراتوارونو سربېره، د عملي کار لپاره د سپین غر مومند پنځـوس بسـتریز مجهز تدریسـي روغتون لري. یاد روغتون په پرمختللو او عصـري وسایلو سنبال دی او محصـلینو ته د عملي زده کړو تر څنګ د هېوادوالو لپاره په معالجوي برخه کې هم فعالیت کوي.

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسـې عمومي طب پوهنځی د خپلو محصـلینو د علمي کچې د لا پیاوړتیا او لوړولو لپاره په تجربوي موادو او وسـایلو مجهز لابراتوارونه، مجهز څېړنیز مرکز، کتابتون، کمپیوټر لېب او د لوړو معیارونو سره سم په پروجکټور او LCD سنبـالې تدریسـي خونې لري. عمومي طب پوهنځی د تقنیني سـندونو او د کیفیت لوړونې معیارونو په نظر کې نیولو سره منظم تشـکیل لري. استادان د نظري او عملي تدریس ترڅنګ د علمي څېړنو په ترسره کولو بوخت دي، تر دې دمه د استادانو لسـګونه علمي څېړنې په ملي او بهرنیو څېړنیزو مجلو کې نـشر شوي دي او ګڼ شمېر درسي کتابونه یې هم چاپ شوي دي.

عمومي طب پوهنځی سـتراتېژیک پلان د تطبیق له لارې غواړي، چې په راتلونکو پینځو کالونو کې د تدریسـي، علمي، څېړنیزو چارو او اداري سیسـتمونو کې د پام وړ مثبت تغیرات او پرمختګونه رامنځته کړي. له دې لارې به د پوهنځي د اهدافو تحقق د مؤسسـې د اهدافو په تحقق کې تکمیلونکي ثابت شوی وي.

په درنښت

# د پوهنځي لرليد، ماموريت او اهداف

سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسې عمومي طب پوهنځی غواړي، چې د عمومي طب په برخه کې د باکيفيته تدريس، زده کړيزو اسانتياو او څېړنو له لارې په ملي او سيمه ايزه کچه غوره پوهنځی وپېژندل شي.

سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسې عمومي طب پوهنځی د معياري تحصيلي نصاب، تدريسي روغتون، مجهزو لابراتوارونو، څېړنيز مرکز او باکيفيته تدريس له لارې د باتجربه او مسلکي استادانو پرمټ ټولنې ته داسې فارغان وړاندې کوي، چې د اړوند سکتور اړتياوې پوره کړای شي.

- د معالجې په برخه کې علمي برنامو او څېړنيزو فعاليتونو پراختيا
- په پوهنځي کې د معياري تدريس لپاره د اسانتياو رامنځته کول، ساتنه او پراختيا
- د پوهنځي د تحصيلي نصاب تطبيق ، ځارنه او ارزونه
- د لابراتواري او روغتوني عملي کارونو لپاره د اسانتياو برابرول، ساتنه او پراختيا
- د لوړو زده کړو وزارت د قوانينو او مقرراتو تطبيق
- د پوهنځي اړوند د کيفيت د تضمين او لوړاوي معيارونو تطبيق
- د پوهنځي اړوند کارکونکو، استادانو او محصلينو د ظرفيت لوړونې برنامو ايجاد، ساتنه او پراختيا
- په پوهنځي کې د لوړو زده کړو وزارت او کاربازار د اړتياو پربنسټ د نورو علمي برنامو ايجاد
- د داخلي او بهرنيو تحصيلي مؤسسو د عمومي طب پوهنځيو سره د تجربو د تبادلې په موخه د علمي او اکاډميکو اړيکو تأمين
- په اسلامي روحيه سنبال، طبي اخلاقو او ملي ارزښتونو ته ژمن علمي کادرونو روزنه
- د ټولنې اړتياو پر بنسټ د نويو ډيپارټمنټونو او فوق لېسانس برنامو رامنځته کول
- د پوهنځي غير ضروري لګښتونو کموالی او عوايدو زياتوالی
- د فساد مخنيوی، په اداري او علمي چارو کې د شفافيت او عدالت رعايت.

# د عمومي طب پوهنځي ارزښتونه

عمومي طب پوهنځی په خپلو ټولو تحصیلي، اداري، مالي او حسابي، څېړنیزو او عامه اړیکو اړوندو چارو کې په لاندې اصولو باور لري او ارزښت ورکوي:

### ديني او ملي شعايرو ته درناوی

پوهنځی د اسلامي شریعت احکامو، اوامرو او اصولو ته ارزښت ورکوي. همدا راز، د پوهنځي اداري کار کونکي، استادان، محصلین او کاري شریکان د افغانستان ملي شعایرو ته په درناوي مکلف دي.

### مسؤلیت پېژندنه

د پوهنځي هر اداري کارکونکی، استاد، او محصل په دې مکلف دی، چې د خپلو مسؤلیتونو په محدوده کې، د پوهنځي اړوند چارې داسې ترسره کړي چې د کړنو د پایلو عواقب په کې په پام کې نیول شوي وي او د وظیفوي تداخل سبب نه ګرځي.

### طبي اخلاقو ته ژمنتیا

د پوهنځي ټول استادان، او محصلین په نظري او عملي ډګر کې د طبابت ټولو اصولو ته ژمن او د طبي اخلاقو او اصولو په رعایتولو مکلف دي.

### د کیفیت تضمین او لوړاوی

پوهنځی په خپلو ټولو خدماتو او چارو کې د کیفیت د تضمین او لوړوني لپاره ډېره پاملرنه کوي او په هر فعالیت کې اهداف، ترتیب، کړنلارې، تأثیراتو او پایلو ته ارزښت ورکوي.

### عدالت او برابري تأمینول

پوهنځی په خپلو ټولو چارو کې د خدماتو او کړنو په تړاو د عدالت او برابرۍ په تامینولو باندې باور لري او په دې برخه کې د اړوندو اصولو تطبیق او رعایت ته ارزښت ورکوي.

### په هر اړخیز پرمختګ کې ګډ کار

د پوهنځي اداري کارمندان، استادان، محصلین او کاري شریکان د طبابت په ډګر کې د هر اړخیز پرمختګ د رامنځ ته کولو او د هیواد د طبابت د معیاري کولو لپاره ژمن دي او په دې برخه کې د کړنلارو ، اصولو او قوانینو تطبیق ته ارزښت ورکوي.

### له شتمنیو او فرصتونو څخه ګټه اخیستل

د پوهنځي اداري کارمندان، استادان، او محصلین د موجوده شتمنیو او فرصتونو څخه ګټې اخیستنې ته ځانګړې پاملرنه کوي او ارزښت ورکوي.

### څېړنه او د تدریس د کیفیت لوړاوی

عمومي طب پوهنځی د تدریس او تحقیق په برخو کې د استادانو او محصلینو څېړنو او د تدریس کیفیت ته ډېره پاملرنه کوي او په دې برخه کې هر ډول اسانتیاو برابرولو او کیفیت لوړوني ته ژمن دی.

### عملي زده کړې او مهارتونه

عمومي طب پوهنځی اداري او اکاډمیکو چارو کې د کار کونکو، استادانو او محصلینو عملي زده کړو او مهارتونو ته ځانګړې ارزښت ورکوي او باور لري، چې د کاري او زده کړیزو مهارتونو له لارې کار کونکي، استادان او محصلین کولای شي اداري سره د اهدافو په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي.

## د عمومي طب پوهنځي رياست



سپين غر د لوړو زده کړو مؤسســـې د عمومي طب پوهنځي رياست چارې د يوه مسلکي په کار پوه او باتجربه شخص له لورې، د لوړو زده کړو وزارت تقنيني سندونو او مؤسســــــې داخلي پاليســــــانو او طرزالعملونو په رڼا کې، پر مخ وړل کېږي.

دوکتور محمد جاويد ″ حاذق″
د عمومي طب پوهنځي رئيس


## د عمومي طب پوهنځي معاونيت



سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسې د عمومي طب پوهنځي د معاونيت چارې د يوه مســــــــلکي او باتجربه شخص له لورې، د لوړو زده کړو وزارت تقنيني سندونو او مؤسســــــې داخلي پاليســــــانو او طرزالعملونو په رڼا کې، پر مخ وړل کېږي.

د عمومي طب پوهنځي مرستيال
پوهنيار صفي الله محبت

# د پوهنځي تشکیلاتـــي جـوړښت



# معالجوي طب ډیپــارټمنټ



دوکتور محبت شــاه همت
د معالجوي طب ډيپارټمنټ (کلينيک) آمر



دوکتور متخصص وحيد الله باور
د پارا کلينيک برخې مسؤل



شاه فيصل محبت
د بيسك ساينس برخې مسؤل

## د معالجوي طب ډيپارتمنټ لرليد، ماموريت او اهداف

### لرليد

د عمومي طب پوهنځــي معالجوي طب ډيپارټمنټ غواړي، چـــې د معالجوي طب په بـــرخه کـــې د باکيفيته تدريس، زده کـــړيـــزو اسانتياو او څېړنو له لارې د غوره ډيپارټمنټ په توګه وپېژندل شي.

### ماموريت

د عمومي طب پوهنځــي معالجوي طب ډيپارټمنټ د معياري تحصيلي نصاب، تدريسي روغتون، مجهزو لابـراتواروونو ، څـېـړنـيـز مـرکـز او باکـيـفـيـــته تدريس له لارې، د باتجربه او مسلکي استادانو پرمټ، ټولنې ته داســـې فارغان وړاندې کوي چې د عامې روغتيا ســـکتور اړتياوې پوره کړای شي.

### اهداف

- د معالجې په برخه کې محصلينو ته د علمي او څېړنيزو فعاليتونو پراختيا.
- د محصلينو د معياري تدريس لپاره د اسانتياو رامنځته کول، ساتنه او پراختيا.
- د ډيپارټمنټ د تحصيلي نصاب تطبيق، څارنه او ارزونه.
- د محصلينو د لابراتواري او روغتوني عملي کارونو لپاره د اسانتياو برابرول، ساتنه او پراختيا.
- د ډيپارټمنټ اړوند د کيفيت لوړوني او ساتنې معيارونو تطبيق.
- د ډيپارټمنټ اړوند کارکونکو، استادانو او محصلينو د ظرفيت لوړونې برنامو ايجاد، ساتنه او پراختيا.
- په اسلامي روحيه او طبي اخلاقو سنبال او ملي ارزښتونو ته ژمن علمي کادرونو روزنه.
- د معالجوي طب ډيپارټمنټ فارغ، د ناروغۍ د تشخيص لپاره د معايناتو د توصيې او تحليل وړتيا ترڅنګ د عملي درملنې وړتيا د رلودل.
- د معالجوي طب ډيپارټمنټ فارغ لپاره د روغتيايي سيستم د شته ستونزو د تحليل او د هغوی د حل وړتيا درلودل.
- د معالجوي طب ډيپارټمنټ فارغ لپاره په طبابت کې له استعمالېدونکې عصري ټکنالوژۍ سره اشنايي او د هغې د مؤثر استعمال وړتيا درلودل.

# د پوهنځي د استادانو احصائیه

| د پوهنځي د استادانو احصائیه | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د استادانو شمیر | تحصیل درجه | | | د قرارداد نوعیت | |
| | MD | MS/MPH | دکتور | دایمي | قراردادي |
| 50 | 43 | 6 | 1 | 23 | 27 |

| د معالجوي طب ډیپارټمنټ استادانو احصائیه | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د استادانو شمیر | تحصیل درجه | | | د قرارداد نوعیت | |
| | MD | MS/MPH | دکتور | دایمي | قراردادي |
| 31 | 31 | 0 | 0 | 9 | 22 |

| د پاراکلینیک برخې استادانو احصائیه | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د استادانو شمیر | تحصیل درجه | | | د قرارداد نوعیت | |
| | MD | MS/MPH | دکتور | دایمي | قراردادي |
| 8 | 7 | 1 | 0 | 5 | 3 |

| د بیسک ساینس برخې استادانو احصائیه | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د استادانو شمیر | تحصیل درجه | | | د قرارداد نوعیت | |
| | MD | MS/MPH | دکتور | دایمي | قراردادي |
| 11 | 5 | 5 | 1 | 9 | 2 |

## د برحاله محصلینو او فارغانو احصائیه ۱۴۰۳ لمریز کال خزاني سمستر

| برحاله محصلین | | فارغان | | د قرارداد نوعیت درسي وختونه | |
|---|---|---|---|---|---|
| 1346 | | 2737 | | | |
| نارینـــه | 1017 | نارینـــه | 2339 | پیل | پای |
| ښځینـــه | 329 | ښځینـــه | 398 | 7:00 AM | 05:50 PM |

## د پوهنځي په کچه فعالې کمېټې

### فرعي کمېټې

- د کیفیت لوړونې فرعي کمېټه
- د علمي څېړنو فرعي کمېټه
- د تحصیلي نصاب (کریکولم) فرعي کمېټه
- برېښنايي زده کړو فرعي کمېټه
- نظم او ډسپلین فرعي کمېټه
- فرهنګي چارو فرعي کمېټه
- پلان او پالیسی فرعي کمېټه
- د ازموینو او نتایجو د انسجام فرعي کمېټه

# استادان



استاد نوم: پوهاند دوکتور محمد طيب نشاط
پوهنځی: عمومي طب
تحصيل کچه: MD



پوهنیار دوکتور متخصص
استاد نوم: احسان الله شينوارى
پوهنځی: عمومي طب
تحصيل کچه: MD + تخصص



استاد نوم: مولوي بشرمل بشردوست
پوهنځی: عمومي طب
تحصيل کچه: ماستر



استاد نوم: پوهنيار محمد صابر جمالي
پوهنځی: عمومي طب
تحصيل کچه: لېسانس



استاد نوم: دوکتور حيات زمان شينوارى
پوهنځی: عمومي طب
تحصيل کچه: ماستر



استاد نوم: دوکتور مرستيال خليل
پوهنځی: عمومي طب
تحصيل کچه: MD



استاد نوم: دوکتور محبت شاه همت
پوهنځی: عمومي طب
تحصيل کچه: MD



استاد نوم: دوکتور شير محمد ذکي
پوهنځی: عمومي طب
تحصيل کچه: MD




استاد نوم: دوکتور عباد الله کاموال
پوهنځی: عمومي طب
تحصيل کچه: MD

# د پوهنځي سهولتونه، زېربناوې او امکانات

## تدریسي خوني

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه (ننګرهار) د درې ګونو پوهنځیو لپاره د لوړو زده کړو وزارت د کیفیت د تضمین او ساتنې معیارونو په نظر کې نیولو سره، د نوي عصر له اړتیاو سره برابرې او په ټکنالوژۍ سنبالې معیاري تدریسي خونې لري. د مؤسسې د ودانۍ په جوړښت کې د دویم منزل څخه تر پینځم منزل پورې د هر پوهنځي لپاره جدا تدریسي خونې، د تدریسي وسایلو او سهولتونو په درلودلو سره ترتیب او د مجربو او متخصصو استادانو له خوا په کې معیاري تدریس ترسره کېږي.





## مجهز کمپیوټر لیب

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه (ننګرهار) معیاري او په عصري او ټکنالوژیکي وسایلو سمبال کمپیوټر لېب لري، چې د طب پوهنځي محصلین هم ورڅخه د مهالویش له مخې ګټه پوره کوي. دا کمپیوټر لېب د مؤسسې د برحاله محصلینو د نصابي او غیر نصابي فعالیتونو او معلوماتو د راټولولو او څېړنیزو فعالیتونو لپاره کارول کېږي. همدارنګه د مؤسسې کمپیوټر لېب کې محصلین کولای شي چې د زده کړو مختلفو آنلاین سرچینو ته لاسرسی پیدا کړي او معلومات ولټوي. کمپیوټر لېب له شنبې څخه تر چهار شنبې ورځې پورې پرانیستی وي او کمپیوټرونه يې د مؤسسې د ډیټابېس د لاسرسي په شمول، د مایکروسافټ آفِس، چټک انټرنېټ او نورو پرمختللو او ډېر کارېدونکو سافټویرونو درلودونکي دي.

## د کنفرانسونو تالار

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه کې د کنفرانسونو او غونډو تالار، د لوړو معیارونو او مشخصاتو په پام کې نیولو سره جوړ شوی دی او د مؤسسې د کار کوونکو او محصلانو د مختلفو غونډو عادي او فوق العاده مجالسو، سیمینارونو او ورکشاپونو لپاره ورڅخه استفاده کېږي. یاد تالار د (۷۰) تنو ګډون کوونکو ظرفیت لري، چې د عصري غږیزې ټکنالوژۍ، د پروجیکشن لپاره عصري او پراخه ایل سي ډي، د پریزنټیشن اړوند اسانتیاوو، چټک انټرنېټ او د ګرمي او یخې هوا د کنټرول سیستمونو ترڅنګ، د ګڼ شمېر نورو سهولتونو او امکاناتو درلودونکی دی.




# د پوهنځي سهولتونه، زېربناوې او امکانات




## د غونډو تالار

سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسې د غونډو تالار (آډيټوريم) د مؤسسې د لويو علمي او کلتوري غونډو او برنامو لپاره کارول کېږي. د مؤسسې د غونډو تالار چې د (۵۰۰) ګډون کوونکو ظرفيت لري، د لوړو زده کړو وزارت د معيارونو، عصري ټکنالوژۍ، قوي انټرنېټ، ايل سي ډي، مسترح چوکيو، د ګرمۍ او يخنۍ لپاره د مجهزو سېستمونو، د معياري ډيکوريشن، غږيز عصري سېستم او نورو سهولتونو او امکاناتو درلودونکی دی. د مؤسسې آډيټوريم د تعمير په وروستي منزل کې قرار لري او د مؤسسې د محصلينو، استادانو او کارکوونکو ټولې لويې غونډې په کې ترسره کېږي.




## مرکزي کتابتون

سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسې فزيکي او ډيجيټل کتابتون، د کتابونو او معلوماتي موادو پراخه زيرمه لري، تر څو د زده کړې، تدريس او څېړنې اړتياوې پوره کړي. د مؤسسې فزيکي کتابتون د پوهنځيو د نصاب اړوند مضامينو لپاره د اصلي او کومکي کتابونو ډېر ډولونه لري. د مؤسسې فزيکي کتابتون د ۲۰۰۰۰ کتابونو ظرفيت لري چې اوس مهال په کتابتون کې زرګونه کتابونه، ژورنالونه، مجلې، ورځپاڼې ويډيويي کليپونه او نورې غږيزې سرچينې شتون لري. په کتابتون کې عصري او د چټک انټرنېټ لرونکي کمپيوټرونه، د مؤسسې ډيټابيس ډيجيټل کتابتون، د نورو معياري او پرمختللو ډيجيټل کتابتونونو وړيا لينکونه، د بهرنيو معتبرو نشرووونکو ادارو له خوا د لوړ کيفيت لرونکي بالمعاوضه محتوا، د مطالعې لپاره ارام چاپيريال، د انفرادي او ګروپي مطالعې لپاره د جلا جلا خونو درلودونکی دی. کتابتون له شنبې څخه تر چهار شنبې پورې د سهار له ۷ بجو څخه تر ماذيګر ۵ بجو پورې پرانيستي وي او ټول محصلين او کارکونکي کولای شي د معلوم پروسيجر له لارې له کتابتون څخه ګټه پورته کړي.



## کانټين (کيفيټيريا)


سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسې کانټين (کيفيټيريا) د مؤسسې د ودانۍ له تأسيساتو څخه شمېرل کېږي، چې د مؤسسې کارکونکو او استادانو ته د خوراک، څښاک، فوتوکاپي، قرطاسيه پلورنځي او دې ته ورته نور اړوند خدمات وړاندې کوي. د کانټين ودانۍ د مؤسسې د ودانۍ پورې تړلې شتمني ده، ټول محصلين او کارکونکي کولای شي په ارامه فضاء کې د کانټين له خوړو او خدماتو څخه خوند واخلي. د کانټين ټول خدمات د بازار له نرخونو، کميت او کيفيت اصل ته په کتو سره، د مؤسسې د اداري مسؤلينو له خوا څارل کيږي.

# د پوهنځي سهولتونه، زېربناوې او امکانات




## د لومړنیو روغتیايي مرستو خونه (صحي کلینیک)

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د لومړنیو روغتیايي مرستو خونه (صحي کلینیک) د عاجلو طبي خدماتو او مرستو لپاره ایجاد شوې ده تر څو د مؤسسې د کارکوونکو او محصلینو د لومړنیو روغتیايي مرستو په برخه کې هغوي ته خدمات وړاندې کړي. د مؤسسې د لومړنیو مرستو خونه (صحي کلینیک) د تجربه لرونکو معالج ډاکټرانو او مسلکي نرسانو له خوا سنبالیږي، تر څو د عاجلو روغتیايي ستونزو لپاره لارښوونه او درملنه ترسره کړي. د لومړنیو مرستو خونې د مسؤلو اشخاصو د اړیکو شمېرې د مؤسسې په ټولو دهلېزونو کې نصب شوي دي تر څو د عاجلو پېښو په صورت کې ورسره محصلین اړیکه ونیسي. د صحي کلینیک ټول خدمات وړیا دي او کوم لګښت نه لري. د مؤسسې د لومړنیو مرستو خونه له شنبې څخه تر چهار شنبې، د سهار له ۷ بجو څخه د ماذیګر تر ۴ بجو پورې خپل خدمات وړاندې کوي.




## څېړنیز مرکز

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د لرلید، ماموریت او ستراتیژیکو اهدافو او د مؤسسې د اصلي دندو په لړ کې، چې تدریس او څېړنه بلل کېږي، د مؤسسې په کچه د درې ګونو پوهنځیو محصلینو او استادانو د طبي څېړنو لپاره څېړنیز مرکز ایجاد شوی دی. د یاد څېړنیز مرکز په مرسته محصلین او استادان کولای شي چې تجربوي او لابراتواري څېړنې وکړي. په نوموړي څېړنیز مرکز کې د استادانو او محصلینو د څېړنو د ترسراوي او عملیو لپاره ګڼ شمېر معیاري او پرمختللي ماشین آلات او وسایل موجود دي. د مؤسسې څېړنیز مرکز د لوړو زده کړو وزارت او عامې روغتیا وزارت د معیارونو او غوښتنو مطابق برابر شوی دی او د یاد مرکز اصلي کاري ساحه د تجربوي او لابرتواري څېړنو ترسره کول دي. تاسې کولای شئ د څېړنیز مرکز د نوښتونو، اسانتیاو او نورو برخو لپاره د مؤسسې څېړنیز مرکز د نړدې څخه وګورئ او معلومات ترلاسه کړئ.








# د پوهنځي سهولتونه، زېربناوې او امکانات



## نشراتي ستوډيو

سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسه د علمي، نشراتي او عامه پوهاوي وېډيوګانو د ثبت او نشر لپاره، معياري او په ټولو وسايلو او تجهيزاتو سنبال ستوډيو لري، تر څو په اړوندو برخو کې د لوړ کيفيت ويډيويي کليپونه ثبت او نشر شي. په دې کې به د مؤسسې محصلينو ته د لکچرونو ثبت، بريښنايي زده کړو اړوندو برنامو، د مؤسسې د عامه پوهاوي ويډيويي پيغامونه او برنامې، د کانکور ازموينو اړوند معلوماتي او لارښود ويډيويي کليپونه، د لويو غونډو پوښښ او ويډيويي کليپونه، استادانو سره په مهمو علمي او زده کړيزو موضوعاتو باندې مرکې شاملې وي. د مؤسسې ستوډيو د نوي عصر او تکنالوژۍ په ټولو اړينو وسايلو او سهولتونو پوره او اوس مهال ورڅخه په ټولو يادو برنامو کې کار اخيستل کيږي.



## اداري دفترونه

سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسې د اداري او علمي څانګو لپاره کاري دفترونه، د ټولو سهولتونو، امکاناتو، عصري او ټکنالوژيکي وسايلو او د لوړو زده کړو وزارت د معيارونو او غوښتنو مطابق، په عصري بڼه چمتو کړي دي. د مؤسسې ټول دفاتر د اړوندو برخو لپاره د چټک لاسرسي وړ دي او په دې برخه کې د مؤسسې عمومي نقشه، د ودانۍ عمومي لارښود، د هر منزل د دفاترو لارښود او نورې اړينې لارښوونې په ودانۍ کې د چټک او اسانه لاسرسي په موخه نصب شوي دي. هغه کانديدان چې غواړي په سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسه کې شموليت ترلاسه کړي او خپل تحصيلي سفر له مونږ سره مخته يوسي، کولای شي د دې سهولتونو ترڅنګ د مؤسسې د سهولتونو او امکاناتو په تعقيب عصري او په ټولو وسايلو او سهولتونو سمبال اداري دفاتر وګوري.



## مجهز تدريسي روغتون

سپين غر مومند پنځوس بستريز معالجوي روغتون د سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسې تدريسي روغتون دی، چې په ټولو عصري طبي وسايلو سنبال دی او د مؤسسې د دري ګونو پوهنځيو (عمومي طب، غاښونو طب او طبي ټکنالوژي) محصلين په کې اړيني عملي زده کړې تر لاسه کوي. سپين غر مومند پنځوس بستريز معالجوي او تدريسي روغتون کې اوسمهال د عمومي داخلي، عمومي جراحي، کوچنيانو، نسائي ولادي، غاښونو، سترګو، غوږ پزې او ستونې، انتاني، عقلي عصبي او هډوکو څانګې فعالې دي، چې د سيمې په کچه د مجربو متخصصو ډاکټرانو په درلودلو سره، د مجهزو طبي وسايلو پر مټ، د ګڼو ناروغيو غوره تشخيص او ډاډمنه درملنه کوي.

# مجهز او په عصري وسایلو سنبال لابراتوارونه

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه د عمومي طب پوهنځي د محصلینو د عملي زده کړو لپاره لسګونه لابراتوارونه لري چې په اړینو تطبیقاتي توکو او معاصرو ټکنالوژیکي وسایلو سنبال دي.



۱. مایکروبیولوژي لابراتوار



۲. فزیالوژي لابراتوار



۳. پرازیتولوژي لابراتوار



۴. هستولوژي لابراتوار



۵. بیوشیمي لابراتوار



۶. بیولوژي لابراتوار



۷. فزیک لابراتوار



۸. د سترګو لابراتوار



۹. کیمیا لابراتوار



۱۰. اناټومي لابراتوار

# Course Break-Down

### First Year First Semester

| No. | Course Title | Credit | Theory | Lab | Small Group Tutorial | Total |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Biology | 4 | 32 | 32 | | 64 |
| 2 | Chemistry | 5 | 48 | 32 | | 80 |
| 3 | Physics | 3 | 32 | 16 | | 48 |
| 4 | Molecular Biology | 3 | 32 | 16 | | 48 |
| 5 | English | 3 | 48 | 0 | | 48 |
| 6 | Belief System of Islam | 2 | 32 | 0 | | 32 |
| 7 | Recitation and Tajweed | 1 | 16 | 0 | | 16 |
| Total Credit Hours | | 21 | | | | |

### First Year Second Semester

| No. | Course Title | Credit | Theory | Lab | Small Group Tutorial | Total |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Genetics | 2 | 16 | 16 | | 32 |
| 2 | Anatomy | 4 | 48 | 16 | | 64 |
| 3 | Physiology | 4 | 32 | 32 | | 64 |
| 4 | Histology | 4 | 32 | 32 | | 64 |
| 5 | Worship system of Islam | 2 | 32 | 0 | | 32 |
| 6 | Biography of Prophet PBUH | 2 | 32 | 0 | | 32 |
| 7 | English | 1 | 16 | 0 | | 16 |
| 8 | Embryology | 2 | 16 | 16 | | 32 |
| Total Credit Hours | | 21 | | | | |

# Course Break-Down

### Second Year First Semester

| No. | Course Title | Credit | Theory | Lab | Small Group Tutorial | Total |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Anatomy | 4 | 32 | 32 | | 64 |
| 2 | Histology | 4 | 32 | 32 | | 64 |
| 3 | Physiology | 4 | 48 | 16 | | 64 |
| 4 | Biochemistry | 4 | 32 | 32 | | 64 |
| 5 | Biophysics | 1 | 16 | 0 | | 16 |
| 6 | Ethical System of Islam | 2 | 32 | 0 | | 32 |
| 7 | Social System of Islam | 2 | 32 | 0 | | 32 |
| Total Credit Hours | | 21 | | | | |

### Second Year Second Semester

| No. | Course Title | Credit | Theory | Lab | Small Group Tutorial | Total |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Anatomy | 4 | 48 | 16 | | 64 |
| 2 | Physiology | 4 | 48 | 16 | | 64 |
| 3 | Biochemistry | 3 | 32 | 16 | | 48 |
| 4 | Microbiology | 2 | 16 | 16 | | 32 |
| 5 | Ideological System of Islam | 2 | 32 | 0 | | 32 |
| 6 | Religions and Sects | 1 | 16 | 0 | | 16 |
| 7 | Parasitology | 2 | 16 | 16 | | 32 |
| 8 | Pathology | 3 | 32 | 16 | | 48 |
| Total Credit Hours | | 21 | | | | |

# Course Break-Down

## Third Year First Semester

| No. | Course Title | Credit | Theory | Lab | Small Group Tutorial | Total |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Pathology | 4 | 32 | 32 | | 64 |
| 2 | Pharmacology | 2 | 16 | 16 | | 32 |
| 3 | Microbiology | 2 | 16 | 16 | | 32 |
| 4 | Medicine | 4 | 32 | 32 | | 64 |
| 5 | Surgery | 4 | 32 | 32 | | 64 |
| 6 | Public Health | 1 | 16 | 0 | | 16 |
| 7 | Political System of Islam | 2 | 32 | 0 | | 32 |
| 8 | Administrative System of Islam | 2 | 32 | 0 | | 32 |
| Total Credit Hours | | 21 | | | | |

## Third Year Second Semester

| No. | Course Title | Credit | Theory | Lab | Small Group Tutorial | Total |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Pathology | 4 | 32 | 32 | | 64 |
| 2 | Pharmacology | 4 | 48 | 16 | | 64 |
| 3 | Medicine | 5 | 48 | 32 | | 80 |
| 4 | Surgery | 4 | 32 | 32 | | 64 |
| 5 | Public Health | 2 | 32 | 0 | | 32 |
| 6 | Economic System of Islam | 2 | 32 | 0 | | 32 |
| Total Credit Hours | | 21 | | | | |

# Course Break-Down

## Fourth Year First Semester

| No. | Course Title | Credit | Theory | Lab | Small Group Tutorial | Total |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Infection Disease | 2 | 16 | 16 | | 32 |
| 2 | Pharmacology | 2 | 16 | 16 | | 32 |
| 3 | Medicine | 3 | 32 | 16 | | 48 |
| 4 | Surgery | 4 | 32 | 32 | | 64 |
| 5 | Radiology and Imaging | 2 | 16 | 16 | | 32 |
| 6 | Obstetric | 2 | 16 | 16 | | 32 |
| 7 | Research | 1 | 16 | 0 | | 16 |
| 8 | Public Health | 1 | 16 | 0 | | 16 |
| 9 | Pediatrics | 2 | 16 | 16 | | 32 |
| 10 | Quran and Contemporary Sciences | 2 | 32 | 0 | | 32 |
| Total Credit Hours | | 21 | | | | |

## Fourth Year Second Semester

| No. | Course Title | Credit | Theory | Lab | Small Group Tutorial | Total |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Anesthesia | 1 | 16 | 0 | | 16 |
| 2 | Urology | 2 | 16 | 16 | | 32 |
| 3 | Medicine | 3 | 32 | 16 | | 48 |
| 4 | Surgery | 3 | 32 | 16 | | 48 |
| 5 | Radiology and Imaging | 2 | 16 | 16 | | 32 |
| 6 | Research | 1 | 16 | 0 | | 16 |
| 7 | Obstetric | 2 | 16 | 16 | | 32 |
| 8 | Dermatology | 2 | 16 | 16 | | 32 |
| 9 | Public Health | 1 | 16 | 0 | | 16 |
| 10 | Pediatrics | 2 | 16 | 16 | | 32 |
| 11 | Islamic Civilization | 2 | 32 | 0 | | 32 |
| Total Credit Hours | | 21 | | | | |

# Course Break-Down

## Fifth Year First Semester

| No. | Course Title | Credit | Theory | Lab | Small Group Tutorial | Total |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Medicine | 2 | 16 | 16 | | 32 |
| 2 | Pediatric Surgery | 2 | 16 | 16 | | 32 |
| 3 | Pediatric | 2 | 16 | 16 | | 32 |
| 4 | Gynecology | 2 | 16 | 16 | | 32 |
| 5 | Traumatology | 2 | 16 | 16 | | 32 |
| 6 | Ophthalmology | 2 | 16 | 16 | | 32 |
| 7 | Neurology | 2 | 16 | 16 | | 32 |
| 8 | Medical Ethics | 2 | 16 | 16 | | 32 |
| 9 | Forensic Medicine | 2 | 16 | 16 | | 32 |
| 10 | Tuberculosis | 2 | 16 | 16 | | 32 |
| 11 | Public Health | 1 | 16 | 0 | | 16 |
| Total Credit Hours | | 21 | | | | |

## Fifth Year Second Semester

| No. | Course Title | Credit | Theory | Lab | Small Group Tutorial | Total |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Medicine | 2 | 16 | 16 | | 32 |
| 2 | Surgery | 2 | 16 | 16 | | 32 |
| 3 | Pediatrics | 3 | 32 | 16 | | 48 |
| 4 | Gynecology | 2 | 16 | 16 | | 32 |
| 5 | Orthopedies | 2 | 16 | 16 | | 32 |
| 6 | ENT | 3 | 32 | 16 | | 48 |
| 7 | Psychiatry | 2 | 16 | 16 | | 32 |
| 8 | Neurosurgery | 2 | 16 | 16 | | 32 |
| 9 | Public Health | 2 | 16 | 16 | | 32 |
| 10 | Behavior Science | 1 | 16 | 0 | | 16 |
| Total Credit Hours | | 21 | | | | |

| Total Credit Hours | Theory | Practical |
|---|---|---|
| 210 | 135 | 75 |
| | 64.285% | 35.714% |

House Job (One Year)

| No | Subject | Duration |
|---|---|---|
| 1 | Internal Medicine | 10 Weeks |
| 2 | Surgery | 8 Weeks |
| 3 | Pediatrics | 6 Weeks |
| 4 | Obs/Gyne | 5 Weeks |
| 5 | Infectious Diseases | 2 Weeks |
| 6 | TB | 2 Weeks |
| 7 | Physiotherapy | 2 Weeks |
| 8 | Public Health | 2 Weeks |
| 9 | Preventive Medicine | 2 Weeks |
| 10 | Ophthalmology | 2 Weeks |
| 11 | ENT | 2 Weeks |
| 12 | Dermatology | 2 Weeks |
| 13 | Psychiatry/Neurology | 2 Weeks |
| 14 | Prescription | 1 Week |
| Total Weeks | | 48 |

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د عمومي طب پوهنځي کتلاګ، د مؤسسې علمي شورا په ۱۴۰۳/۰۵/۲۹نېټه جلسه کې د رایو په اکثریت تائید او په (۷)مه ګڼه پروتوکول کتاب کې ثبت دی.